دعبدالحّی حبیبی په اهتمام
ژباړونکی: درویش وردگ

۰۶ اپریل ۲۰۱۸

## السَّوادُ الاعظم- ۲۹

**پښتوترجمه**

**تألیف: ابوالقاسم اسحاق بن محمّد بن اسماعیل بن ابراهیم بن زید حکیم سمرقندی**

**د ۳۷۰ هجری کال په شاه اوخوا دامیرنوح سامانی په فرمان فارسی ته ترجمه شوی**

**آته پنځوسمه مسئله**

لومړی برخه

داده : چی مسواک وهل اوخلال کول حق ووینم اوصواب یی وګنی! اووروسته له اوداسه(طهارت) نوکونه وانخلی.

اوعبدالله ابن عباس رضی الله عنهما روایت کوی چی رسول علیه الصلوة والسلام وویل: تاسولره دی چی باید مسواک وکاروی.! چی په مسواک وهلو کی لس خصلت دی: لومړی: دخولی پاکوالی. دوهم: درحمان خوشحاله کول. دریم: دفرشتګانو خوښی. څلورم: دسترګوروښنایی. پنځم: دغاښونو سپین والی. شپږم: دغاښونو دبیخ سختول. اووم: دخولی دبوی ورک کول. آتم: دخوړو ګوارا کول. نهم: دبلغم له منځه وړل. لسم: دلمانځه اضعاف کول.

اوپه خبرکی دی چی رسول علیه الصلوة والسلام وویل: اودس دایمان له شرایطو څخه دی، اومسواک وهل داوداسه له شرایطو څخه دی. که امت ته زما تکلیف نه رسیدای نو دهرلمانځه لپاره به اودس وای. اوهرڅوک چی دوه رکعت لمونځ له مسواک وهلو سره وکړی تر اویازره بی مسواکه لمونځونه بهتره دی.

او ابوهریره رضی الله عنه روایت کوی، چی رسول علیه السلام وویل: جبرئیل علیه السلام ماته تل په پنځوشیانو وصیت کړی دی. لومړی: دګاونډی لپاره یی دومره وصیت راته وکړی، چی فکرمی وکړی چی ګوندی په میراث کی شریک کیږی. دوهم: دشپی لمانځه لپاره یی دومره راته وصیت وکړچی ومی انګیرله چی زما امت به دشپی نه بیدیږی. دریم: دښځوپه هکله یی راته داسی سفارش وکړ چی فکرمی وکړچی په طلاق سره به نه حرامیږی.څلورم په درهم رانیولشویو(برده ګان) په هکله یی دومره راته وصیت وکړی چی کله به ددوی دآزادی وخت راورسیږی. پنځم : په مسواک یی دومره راته وصیت وکړچی ومی انګیرله چی زما دغاښونو غوښی به تویی شی.

او اعمش روایت کوی له مجاهد څخه چی وویل: څو ورځی جبرئیل امین رانغی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته. پس چی کله راغی، رسول علیه السلام وویل: یا جبرئیل! څه شی ته له راتګ څخه وماته ګرځولی وی؟ جبرئیل علیه السلام وویل: یارسول الله! څرنګه مونږ تاسو خواته راشو؟ چی ځینوله تاسونوکونه ندی اخیستی، اودشونډوڅخه یی وینتان

ندی لیری کړی، اودګوتو بندونه یی ندی پاک کړی، اومسواک یی ندی وهلی. پس دا آیت یی ولوست: وَمَا نَتَنَزَّلُ اِلَّابِاَمرِرَبِّکَ. وویل: مونږ نه راکښته کیږو مګرستادپروردګارپه امر. اورسول علیه السلام وویل: دجمعی په ورځ دځان اوسرمینځل په مسلمانانو واجب دی اومسواک وهل اوښه بوی وهل.

اوابوشهاب روایت کوی چی رسول علیه السلام وویل: هرڅوک چی دجمعی په ورځ نوکونه واخلی له تنګدستی څخه په امن کیږی. اورسول علیه السلام وویل: مسواک ستاسو دخولی بوی ورکوی ، کوم چی دقرآن لاره ده.

اوفقیه ابولیث سمرقندی رحمه الله وایی: چی مسواک وهل په دریو وجهو سره دی: لومړی: دخدای عزّوجلّ لپاره اودرسول علیه السلام دسنت لپاره. دوهم: دتن دګټی لپاره. دریم: دخلکو دهڅولولپاره. اوکه څوک مسواک ووهی دخدای عزّوجلّ لپاره اودرسول علیه السلام دسنتو لپاره اودهرلمانځه لپاره چی مسواک وکاروی، داویاوو لمونځونو ثواب ورکول کیږی. اوکه دتن دمنفعت لپاره نو دهغی ثواب هم ترلاسه کوی، اوکه درياء اوخلکو لپاره وی ګناه ده.

اوعبدالله ابن عباس رضی الله عنهما وایی: چی په دی آیت کی ابراهیم خلیل صلواة الله علیه وعلی نبیینا، لس شیان وفرمایل: قوله تعالی: وَاِذِابتَلی اِبراهیمَ رَبَّهُ بِکَلِمَاتٍ فَاَتَّمَهُنَ. لس شیان یی یادکړل: پس ویی فرمایل چی پنځه په سرکی اوپنځه په تن کی دی. اوکوم پنځه چی په تن کی دی: لومړی: بیتونه وهل. دوهم: اوبه په خوله کول. دریم: اوبه په پوزه کول. څلورم: دسرویښتان خریيل. پنځم : مسواک وهل.

اما پنځه چی په تن کی دی: لومړی: نوکونه اخیستل. دوهم: ختنه کول. دریم: دنامه لاندی ویښتان وهل. څلورم: دتخرګ(بغل) ویښتان وهل. پنځم : استنجاء.

ابوبکررواق ترمذی رضی الله عنه وویل: مونږته داسی راورسیدل چی په مسواک وهلو کی پنځه لس خصلتونه دی: اول: خوله پاکوی. دوهم: خلک فصیح کوی. دریم: دغاوښونوبیخونه کلکوی. څلورم: بد بوی ورکوی. پنځم: بلغم له منځه وړی. شپږم: سودا کښینوی. اووم: اشتها راوړی. آتم:  سترګی روښانه کوی. نهم: غاښونه سپینوی. لسم: شیطان په خشم کوی. یوولسم: دحق تعالی خوښی ده پکی. دوولسم: دطهارت بشپړکول دی. دیارلسم:تندرستی راوړی. څوارلسم: دسنتو مطابقت دی. پنځه لسم: حسنات مضعاف کوی. اوهرڅوک چی مسواک وکاروی په حسناتوکی یی ډیروالی راځی اودرجی یی لوړیږی اولمونځ یی یو په اویاکیږی. ولیکن باید مناسب او وړ لرګی پیداکړی اوپه هرلرګی سره مسواک ونکړی اوخلال ونکړی.

اوپه خبرکی دی چی رسول علیه السلام په مسجدکی ناست و، جبرئیل علیه السلام راغی، چی یا رسول الله ! حق تعالی وایی اوفرمایی چی په لسو لرګیوسره خلال ونکړی اوامتانو ته ووایه چی که هرڅوک له دی لسو لرګیوڅخه خلال وکړی بیماریږی اوعلت یی ډیریږی. ځکه چی ځینی له دی لرګیو څخه زهری دی.

رسول علیه السلام وویل: دا لس لرګی دادی: لومړی: دمازو لرګی. دوهم: دانارلرګی. دریم: دګل لرګی. څلورم: دخرما لرګی. پنځم: دشاه سپرغم لرګی. شپږم: دسداب لرګی. اووم: دسبست لرګی. آتم: دګشنیزلرګی. نهم: دمورد لرګی. لسم: دنی لرګی.

اوپوه شه یارسول الله! هرڅوک چی دمازوپه لرګی خلال وکړی دعمربرکت یی کمیږی. اوهرڅوک چی دانار په لرګی خلال وکړی ګرګین به شی. اوڅوک چی دخرما په لرګی خلال وکړی په شقیقه کښی یی درد پیداکیږی. اوڅوک چی دسداب په لرګی خلال کوی تبه یی ډیریږی. اوڅوک چی دشاه سپرم په لرګی خلال وکړی، لیونتوب ورته پیداکیږی. اوکه دمورد په لرګی خلال وشی، په تن به یی علتونه څرګندشی. اوکه دنی په لرګی خلال وشی دسترګو په درداخته کیږی. اوکه دګشنیزوپه لرګی خلال وشی حافضی ته یی نقصان پیداکیږی.

او ابوهریره رضی الله عنه روایت کوی چی رسول علیه السلام وویل: هرڅوک چی دشنبی په ورځ نوکونه واخلی درد تری بهرکیږی. اوهرڅوک چی دیکشنبی په ورځ نوکونه واخلی له خاندانه به یی درویشی پورته شی. ااوکه په دوشنبه واخیستل شی، لیونتوب تری لیری کیږی. اوکه په سی شنبی واخستیل شی پیسی به تری لیری وی. اوکه پنجشنبی یی واخلی تنگی به تری لیری شی. اوکه څوک دجمعی په ورځ نوکونه واخلی له گناهونو څخه به پاک شی اورحمت به پری راتویی شی.

اوحضرت امیرالمومنین علی ابن ابی طالب کرم الله وجهه روایت کوی چی رسول علیه السلام وویل: هرڅوک چی نوکونه په غاښوسره پری کړی، ورته پیسی راځی اونوکونه دجمعی په ورځ واخلی چی اویا بلاوی درڅخه لیری وساتی. اودهری گوتی په مقابل کی سل نیکی اوپه هماغه اندازه یی سل درجی پورته کیږی.

اوانس ابن مالک رضی الله عنه روایت کوی چی رسول علیه السلام وویل: هرڅوک چی دجمعی په ورځ نوکونه اخلی، حق تعالی دده له تنه زردردونه رابهرکوی اوزرشفاوی ورکوی، اوتربلی جمعی دهری ورځی سره لس نیکی ورکوی اولس درجی یی په بهشت کی پورته کیږی. اوهرڅوک چی دلمر اوسیوری ترمنځ ویده کیږی پیسی ورته رسیږی. اوهرڅوک چی په هغواوبو چی په لمرسره تودی شوی وی اودس وکړی، هغه ته هم پیسی رسیږی.مگرکه یی داوبو سرپوښلی وی.اوله هرچاچی پلاراومورناراضه وی، هغی ته پیسی رسیږی. اوهرڅوک چی دشنبی اوچهارشنبی په ورځ حجامت وکړی ورته پیسی رسیږی.

اورسول علیه السلام وویل: هرڅوک چی نوکونه واخلی اوهغه په ځمکه ښخ کړی، یایی په یوه سوری کی واچوی، حق تعالی فرمان ورکوی چی پنځوس زره نیکی یی په نامه کی ولیکل شی. اورسول علیه السلام وویل: چی خدای عزّوجلّ لره فرشتگانی ترسدرة المنتهی لاندی شته چی آمرزش غواړی، هغو کسانو لره چی ځانونه پاک ساتی اوبریتونه لنډوی. اومسواک مه ترک کوی ترڅو دفرشتگانو دوستان وگرځی.

نوربیا......